درنو مهاجرینو! ښه راغلاست دکروشیا هیواد ته!

دمهاجرینو دپام وړ!

۱- که چیري تاسو دکروشیا هیواد دسرحد څخه بل هیواد ته په پښو مزل کوي، پاملرنه وکړي چه په لاره ماینونه او نا چاودیدونکی توکی لا هم شتون لری، او یوازی په پوخ او نشانی شوی سرک او یا هم دریل د پټلي نژدی او یا یی تر څنګ مزل وکړی.



۲- کله چه تاسو د اوپاتووچ کمپ ته راشی،

مهربانی وکړی خپل ځانونه ثبت او راجستر کړي. څکه په یو ځل په زرهاوو مهاجرین دلته ځانونه ثبتوی نو د ثبت پروسه یو څو ساعته وخت نیسی . تاسی باید د کمپ مخی ته منتظر اوسی، اګرچه هوا بده ده مګر دکمپ کارکونکی کوښښ کوی چه تاسو ته لازم سهولت برابر کړی.

۳- دثبت پروسه کي دتاسو شخصی معلومات (نوم او تخلص ) لیکل کیږی ، او تر څنګ یی ستاسو څخه یو عکس هم اخیستل کیږی . همدا راز دراجستریشن په ترڅ کي کیدای شی دتاسو دګوتو نشان هم وانخلی.

۴- د کمپ دننه تاسو ته خواړه ، اوبه او صحی پاملرنه په نظر کی نیول شوي. ددی تر څنګ دتاسو دضرورت وړ شیان په خاص ډول دخوب لپاره تخت او کمپلي هم دکمپ لخوا برابریږی. کله کله کمپ ته ډیر مهاجرین په یو ځل راځی نو له دی امله د ورکړی پروسه یو څه ځنډیږی تاسو مهربانی وکړی منتظر واوسی او یا هم د کمپ دننه د رضاکارانو څخه پوښتنه وکړی.

۵- پولیس کوښښ کوی چه هر شخص بی له ځنډ د کمپ څخه دنورو هیوادو په لور حرکت وکړی. همداراز د کمپ دننه هر شخص ته به یو دستبند ورکول کیږی او د پاسه به یی کمپ ته دداخلیدو وخت لیکل شوی وی، تر څو هغه خلک چه وروستي کمپ ته داخل شوی وخته لاړ نشی. کله چه تاسو د بس دننه کیږی مهربانی وکړی احتیاط وکړی، څکه ډیر ماشومان هلته موجود وی.

۶- دهر شخص لپاره د کمپ نه تر هنګری هیواد سرحد پوری تنظیم شوی ترانسپورت په نظر کی نیول شوی، کله نا کله د خلکو تعداد زیاتیږی اما مهربانی وکړی حوصله وکړی. هرشخص به د کمپ څخه تر

هنګری سرحد پوری خپل ځای په بس او یا هم په ریل ګاډی کی ولری تر څو وکولی شی دوی سفر وکړی.

۷- زمونږ د معلوماتو پر بنسټ ، د هنګری هیواد دخدمتونو څانګه به ټول مهاجرین دمهاجرینو مرکزونو ته یوسی، او وروسته لدی به مهاجرینو ته اجازه ورکړی چه د اتریش هیواد ته سفر وکړی . او د راغلو معلوماتو پر بنسټ هر ځل چی مهاجرین یو ځل اتریش ته رسیدلی د هغه څخه وروسته ټول مهاجرین د خپلوخوښو ملکونو ته رسیدلی دي.

دلا ډیرو معلوماتو لپاره تاسی کولی شی په کمپ کی دننه رضاکارانو څخه وپوښتی، او که چیری ډیر عاجل مشکل تاسو ته د کمپ درارسیدو څخه دمخه په لاره پیښ شی مهربانی وکړی د ۱۱۲ شمیری سره اړیکه ونیسی.

موږ دتاسی څخه غوښتنه کوو چه پدی جریان کی د صبر څخه کار واخلی، د کروشیا هیواد کارکونکي کوښښ کوی چه تاسو ته محفوظ سفر او هر ډول سهولت برابر کړی.

تاسو د ښه سفر په هیله!

انترنتي معلوماتو دپاره:

زموږ د اداريِ د فیسبک پاڼه وګورئ:

Page Dear refugees: Welcome to Croatia

او انترنت پاڼه:

Welcome.cms.hr